# په مسجد کښي مجلس کول اودورکي اعلان

مسجد دسجدې لګولوځاي ته وايي يعني دعبادت اوبندګۍ ځاي او ترټولو مساجدو لومړی مسجد دځانګړتيا لمخي مسجدالحرام دی اوپه دوهمه مرتبه کښي مسجد النبوي ﷺ دی په دريمه مرتبه کښي دبيت المقدس مسجد دی اوپه څلورمه مرتبه کښي هغه مساجد دي چي دجمعې لمونځ پکښي اداکيږي اودکلومساجدو ته د فقهاءپه آند پنځمه مرتبه ورکړل سوي دي شپږم مسجد دمرتبې لمخي دکورونو مسجدونه دي مطلب داچي يوڅوك په کورکښي دلمانځه لپاره يوځاي معين کړي که څه هم دمسجدحکم نه اخلي . ([1])

امام فقيه (رحمة الله عليه) په تنبيه کښي دمسجدلپاره پنځلس اداب بيان کړي دي هر انسان ته يې رعايت کول اړين دی نوموړی اداب په لاندي ډول دي :

---

([1]) عالمګيري جلد ٥ صفحه ٣٢١

1. لومړی داچي ومسجدته دننوتلو په وخت به سلام وايي پدې شرط چي ټول خلگ په لمانځه یاذکرکولوبوخت نوي اوکچيري ځيني خلگ په لمانځه یاذکراخته وه اوځيني اخته نه وه سلام به وايي اوکه ټول اخته وه داکلمه به وايي :

السلام عليناامن ديننااوعلي عبادالصالحين

2. دوهم ادب دادی چي مسجد ته دننوتلووروسته اوتر کښيناستلووړاندي به دوه رکعته نفل کوي پدې شرط چي دکراهة وخت نوي .

3. دريم ادب دادی چي په مسجدکښي به درانيولواوخرڅولوڅخه ډډه کوي ځکه مسجد دعبادت ځای دی ددنياوي کارونولپاره نه دی .

4. څلورم ادب دادی چي په مسجد کښي به دسلاح ساتني اواستعمال مخنيوي کوي .

5. پنځم ادب دادی چي په مسجدکښي به دورك سوی شی لټه اواعلان نکوي په اوسني عصرکښي چي دورکي زيات اعلانونه په مسجدونو کښي کيږي بايددغه ادب بيخي په نظرکښي ونيول سي ځکه داعلان کولووسائل ډېردي لکه راديوگاني ، ورځپاني ،مجلې اوداسي نور .

6. شپږم ادب دادی چي دالله ﷻ دذکرپرته به په نورڅه سره تلفظ نکوي يعني دنياوي مجلس به نه کوي .

7. اوم ادب دادی چي دنياوي خبري اوبيهوده مجلسونه به په مسجدکښي نکوي .

8. اتم ادب دادی چي دخلګودتګ راتګ لپاره به په مسجدکښي لارنه پريږدي .

9. نهم ادب دادی چي په مسجدکښي به دجنګ جګړې څخه ځان ژغوري .

10. لسم ادب دادی چي دصف دتنګوالي په صورت کښي به شاته کيږي هسي نه چي دخلګودتکليف لامل سي .

11. يوولسم ادب دادی چي د لمونځ کونکي دمخ تېرېدلوڅخه به ډډه کوي .

12. دوولسم ادب دادی چي ناوړي ( بلغم ) به په مسجدکښي نه توکي ځکه چي دمسجداهانت (سپکوالی) راځي .

13. ديارلسم ادب دادی چي په ګوتوبه په مسجدکښي ټکان نکوي .

14. څوارلسم ادب دادی چي مسجد به دلويانواوکوچنيانو دنجاست څخه پاك ساتي اوشرعي حدود به په مسجدکښي نه قائموي .

## 15. پنځلسم ادب دادی چي په مسجدکښي به دالله ﷻ ذکرډېرکوي .[2]

څرنګه چي په معاصروخت کښي زيات د ورکي اعلانونه په مسجد کښي کيږي اوحال داچي اوس نوي عصري شيان وجودلري لکه راديو،تلويزون اوداسي نورداطلاع وسائل حال داچي رسول الله ﷺ فرمايلي دي : هغه ورک سوی شی دي نه پيداکيږي چي په مسجد کښي ورته اعلان کيږي .

بله بګنونکي خبره داده چي اوس خلګو دوخت تېرولوپه موخه او دنياوي مجلسونو لپاره مسجدونه داجتماع نقطه ټاکلي ده داډيره بده خبره ده ځکه يو خو دمسجد بې ادبي ده لکه مخکي چي مو وويل اوبل داچي رسول الله ﷺ نومورې کاردقيامت دنښانوڅخه شمېرلي دی اوارشادفرمايي :

عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اذاتّخذ الفئ دولا والامانة مغنما والزکوة مغرما وتعلم لغيرالدين واطاع الرجل امراته عق امّه وادني صديقه واقصي اباه وظهرت الاصوات في المساجدوسادالقبيلة فاسقهم وکان زعيم القوم ارزلهم واکرم الرجل مخافة شره وظهرت القينات والعازف وشربت الخمورولعن آخرهذه

---

([2]) عالمګيري جلد ۵ صفحه ۳۲۱

الامة اولها فارتقبوا عندذالك ريحا حمرآء وزلزلة وخسفاوفسخا وقذفا وآيات تتابع كنظام قطع سلكه فتتابع .([3])

ژباړه : دحضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ده مبارك ويلي دي چي جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم ارشاد فرمايلی دی کوم وخت چي دغنيمت مال خپل دولت وګرځول سو، ديوچا امانت مال غنيمت وګڼل سو ، دزکوة ورکړه پوروګڼل سو ، سړی دخپلي ښځي اطاعت کاوه اوموريې اذاروله ، اشنای يې رانژدې کاوه اوپلاريې لري کاوه ، خلګو په مسجدونوکښي اوازونه پورته کړل ، دقوم دروند انسان دقوم فاسق سواو دقوم رئيس دقوم رزيل سو ، يوچابل چا ته عزت دهغه دشر دوېري لامله ورکاوه، ډول وهونکي اوسروزونه ښکاره سول ، شراب چيښل کيده او ددې امت وروستيو خلګو ددې امت پرلومړيو خلګوباندي لعنت وايه په دغه وخت کښي نو دسروبادونو ،زلزلو، خسف (مځکه ښويدنه) ، دډبرو اوريدلو اوفسخي انتظاروکړي يعني مانښام به انسان وي سهاربه په حيواني شکل اوښتي وي او دقيامت علامې به پرلپسې وي دملغرو دترتيب په څير.

---

([3]) خيرالمواعظ جلد ثاني صفحه ۳۷ رواه ترميذي

پورتنی حدیث ته که ځیر سو په ښکاره معلومیږي چي په مسجدو کي مجلسونه کول،اعلانونه کول اوداسي نور دالله ﷻ دعذابونو لامل گرځي.

تمت

په درنښت: خادم القرآن مولوی حفیظ الله (کریمی البغلانی )

المرقوم ۱۴۳۹،۷,۲۰ هجری قمری

مدرسه تعليم القرآن للبنين و البنات